# حقائق تسلیمول پکار دي

هارون الرشید خټک

زمونږ بدقسمتي دا ده چې مونږ صرف د خپلې انا د تسکین، ذاتي غرضونو او سیاسي او مالي فائدو تر مخه سوچ کوو او بیا په هغې عمل کوو. مونږ نهٔ حقائق تسلیموو او نهٔ په دلیل خبره کوو او نهٔ د یو دلیل منلو ته تیار یو. دا وجه ده چې درې شپېتهٔ کاله پس هم پاکستان په داخلي او خارجي مسائلو او مشکلاتو کښې راګېر دے. بلکې د حق نهٔ منلو، رښتیاؤ او غفلت له وجې یو حقدار له د حق نهٔ ورکولو په وجه مو نیم ملک بائللے هم دے او باقي پاتې پاکستان کښې صرف یوه صوبه پنجاب خوشحاله او مطمئنه ده. د باقي درې واړو صوبو داسې حال دے چې د چا نه پټ پناه نهٔ دے. خو تر اوسه زمونږ په سوچونو کښې یوه ذره بدلون نهٔ دے راغلے. مونږ لا تر اوسه داسې څهٔ ښې او ګټورې فېصلې نهٔ دي کړې چې د هغې په وجه دا ملک نور مستحکم شوے وې او مونږ د مسائلو او مصیبتونو نه وتلي وې، په خارجي او داخلي توګه د عزت خاوندان شوي وې او د دنیا په نقشه کښې د یو باوقاره، مهذب قوم درجه مو حاصله کړې وې.

پاکستان د ۱۹۴۷ نه تر ۱۹۷۱ پورې په پنځو صوبو مشتمل وهٔ. اوس د ۱۹۷۱ نه پس تر دې وخته څلور صوبې پاتې دي چې پکښې پنجاب، سندهـ، بلوچستان او پښتونخوا شاملې دي. یوه لویه صوبه چې په عرف عام کښې ورته مشرقي پاکستان وئیلے شو یوائې د د دې څلورو صوبو چې ورته مغربي پاکستان وئیلے شي نه د ابادۍ په لحاظ لویه وه. خو کله چې په هغوي د ټوپک په زور اردو ژبه وروتپلې شوه او د هغوي نه خپله بنګالي ژبه وترورلې شوه نو معتدل مزاجه بنګالیان سمدستي لکه د سرو مچو راوپاربېدل. د مینې په ځائے د هغوي زړونه د نفرتونو نه ډک شو خو بیا ئې هم وخت تېرولو. بیا د هغوي د اکثریت له ویرې چې د یو ووټ یو سړي د فارمولې لاندې خو به حکومت د دوي وي او دوي به راباندې مشري کوي نو ون یونټ جوړ کړے شو. دغسې یو مخصوص اقلیت (سندهـ، پښتونخوا او بلوچستان پکښې شامل نهٔ دي) دغه اکثریت لواړ تېر کړو. بنګالیانو بیا هم برداشت او صبر وکړو خو چې کله په ۱۹۷۰ کښې په عامو انتخاباتو کښې مېدان عوامي لیګ یوړو او بیا هغوي د خپل حق نه محرومه کړے شو نو د هغوي د سوچ هره زاویه بدله شوه او د هر یو بنګالي نه د اور سور بڅرے جوړ شو او هرې خوا ته یو اور ولګېدو او هله دغه اور مړ شو چې د مشرقي پاکستان په نوم یوې محکومې، بې وسه،ناچارې او بې اختیاره صوبې د دنیا په نقشه کښې د یو ازاد خودمختار بنګله دېش شکل اختیار کړو. نن هغوي د خپلې ژبې، خپلې جنډې او خپل اقتدار او اختیار خاوندان دي او د ټولو نه لویه خبره دا ده چې خپل تشخص ئې د بنګله دېش په نوم وګټلو. اوس سوچ وکړئ چې څوک فائده کښې پاتې شو او چا تاوان وکړو؟

خو افسوس چې د دومره لوئي زيان نه پس هم مونږ سم نۀ شو او نۀ مو خپلې رويې بدلې کړې. رويې زمونږ لا تراوسه متعصبانه دي او سوچ مو اوس هم هغه برهمانه دے. د پاکستان درې ورې صوبې چغې وهي چې مونږ سره زياتے کيږي، زمونږ وسائل زمونږ نه تروړلے شي، مونږ محکوم يو، مونږ محتاج او بې اختياره يو. خبره اوس د صوبائي خودمختارۍ نه قومي خودمختارۍ او ازادۍ ته رسيدلې ده خو هغه قيصه ده چې روم سوځيدو او نيرو شپيلۍ غږوله.

اوس څۀ موده کيږي د صوبه سرحد د نوم د بحالۍ معاملې له سياسي رنګ ورکولے شي. د انصاف تقاضا خو دا وه چې د پاکستان د جوړيدو سره د دې صوبې د شناخت مسئله هواره کړې شوې وې او پېرنګيانو چې دوي له د سزا ورکولو په غرض کوم ظلم او زياتے کړے وۀ د دې علاج ئې کړے وې خو افسوس چې داسې ونۀ شو. پښتنو د پېرنګي مقابله وکړه او په خپله مبارزه ئې د پېرنګي د لويې برطانيې تصور ټوکړې ټوکړې کړو. د وړومبي اپرېل ۱۸۴۹ نه تر اګست ۱۹۴۷ پورې اتۀ نوي کالو کښې يوه ورځ هم دوي په ارام کښيناستو ته پرې نۀ ښودي شو. پښتنو د پېرنګي سره دوه زره دوه سوه نهۀ ځلو ښت جنګونه وکړل او د هغوي غرور ئې د پښو لاندې کړو. نو هغوي د پښتنو نه دا بدل واخستو چې دوي ئې په ځلورو برخو کښې ووېشل، دوي له ئې د قبائلو او صوبه سرحد وغيره نومونه ورکړل او د شناخت نه ئې محرومه کړل. دوي ئې د خپل وحشت او بربريت ښکار کړل او ايف سي آر ئې پرې نافذ کړو خو افسوس چې درې شپېتۀ کاله تيريدو باوجود پښتنو له نۀ خو خپل شناخت ورکړے شو او نۀ دوي راټول کړے شو او نۀ د قبائلي علاقو نه د ايف سي آر خاتمه وشوه.

عوامي نېشنل پارټي د يوې زمانې نه جدوجهد او مطالبه کوي چې د صوبه سرحد دا بې معنې نوم دې لرې کړې شي او د دې ځائے خلقو ته دې خپل پخوانے نوم پښتونخوا ورکړے شي. دې پارټۍ د دې غرض دپاره جمهوري او سياسي لاره خپله کړه او په نهۀ ويشتم ستمبر ۱۹۹۰ ئې صوبائي اسمبلۍ ته يو قرار داد پېش کړو خو د بدقسمتۍ نه د دې قرارداد په حمايت کښې اتويشت او مخالفت کښې اتۀ ځلو ښت ووټونه راغلل. بيا په ديارلسم نومبر ۱۹۹۷ دوباره په متفقه ډول د مختلفو سياسي او ديني ډلو غړو د اې اين پي بېګم نسيم ولي خان، ميا افتخار حسېن، حاجي محمد عديل، د پيپلز پارټۍ نجم الدين خان، د جمعيت العلمائے اسلام محمد اکرم خان دراني، د جماعت اسلامي پير محمد خان يو قرارداد پېش کړو چې په حمايت کښې ئې اتيا ووټونه راغلل. د دې قرار داد په پېش کيدو بيګم نسيم ولي خان ووې چې دې صوبې له انګريزانو د شمال مغربي سرحدي صوبې نوم ورکړے وۀ ځکه چې تر دې ځائے پورې د هغوي حکومت وۀ او هغوي د خپل سلطنت د تحفظ دپاره د دې نوم ورکولو نه وړاندې پښتانۀ په مختلفو برخو کښې وېشلي وو حالانکې په دې صوبه کښې اوسيدونکي ټول پښتانۀ دي، د دوي تمدن، تهذيب هر څۀ د پښتنو دي، روايتونه ئې سره يو دي او د دې صوبې نه بهر ځان پښتون حسابوي. د تاريخي شواهدو نه پته لګي چې د دې سيمې زوړ نوم پښتونخوا وۀ ځکه نو دې صوبې له دا نوم ورکول پکار دي.

په دې موقع میا افتخار حسین ووې چې دا زمونږ د علاقې اسمبلي ده ځکه نو دې صوبې له دا نوم پکار دے. مونږ د پاکستان په نقشه کښې خپل نوم لیدل غواړو چې د یوې پېړۍ نه بې نومه پرته ده. په تاریخي توګه د دې سیمې نوم پښتونخوا دے ځکه نو د دې دا زوړ نوم دې بحال کړے شي. څلور زره قبل مسیح کښې هم د دې خطې نوم پښتونخوا وۀ. دا د یو فرد مسئله او خبره نۀ ده بلکې دا د پښتون قام د تاریخي حیثیت د شناخت مسئله ده.

حاجي محمد عدیل په دې موقع ووې چې په آئین کښې د پنجاب، سندهـ او بلوچستان سره د پراونس لفظ نۀ دے استعمال شوے صرف د دې صوبې سره لیکلے شي. ځکه چې سرحد د هیڅ یوې علاقې نوم نۀ دے ځکه نو مونږ له تاریخي نوم پکار دے کوم چې پښتونخوا دے. په قرآن کښې د هر قوم د شناخت ذکر راغلے دے او زمونږ ملک یو اسلامي ملک دے ولې مونږ له خپل شناخت نۀ شي راکولے. د ازادۍ نه پس ډېرو ملکونو د خپلو ښارونو او علاقو نومونه بدل کړي دي نو مونږ داسې ولې نۀ شو کولے. پښتونخوا زمونږ کلاسیکي نوم دے.

نجم الدین خان ووې د پاکستان جوړېدو نه پس د صوبې د خلقو غوښتنه وه چې د پنجاب، سندهـ او بلوچستان په شان دې د صوبه سرحد یو خپل نوم او د عوامو خپل یو شناخت وي. خو د بدقسمتۍ نه د تېرو پنځوسو کلونو نه دغه د پېرنګیانو ورکړے نوم برقرار دے. زمونږ خپل یو شناخت او پېژندګلو پکار ده ځنګه چې د نورو صوبو او د هغې د خلقو ده. مرکز دې په آئین کښې ترمیم وکړي او زمونږ د صوبې نوم دې پښتونخوا کړي.

محمد اکرم خان دراني ووې چې دا قرارداد ډېر مخکښې پېش کول پکار وو. دا د وخت ضرورت دے. دې سیمې د پاکستان د ازادۍ د پاره ډېرې قرباني ورکړې دي خو افسوس چې مونږ ته تر اوسه خپل شناخت نۀ شي راکولے. حالانکې دا شناخت مونږ له د پاکستان جوړېدو په وخت راکول پکار وو.

پیر محمد خان ووې این ډبلیو ایف پي هیڅ نوم نۀ دے. دې صوبې له خپل نوم ورکول پکار دي. په دې سیمه کښې د انګرېزي ویونکو هیڅ یو کلے نشته نو بیا د پېرنګیانو دا ورکړے نوم څۀ معني لري؟

پیر صابر شاه ووې دې صوبې له دا نوم پېرنګي ورکړے دے ځکه نو دا بدلول پکار دي.

لوستونکو لکه څنګه چې تاسو د معتبرو سیاسي شخصیاتو دلائل ولوستل د شمال مغربي سرحدي صوبه چې ورته این ډبلیو ایف پي North-west Frontier Province هم وئیلے شي هیڅ معقول نوم نۀ دے او دا چې دا د پېرنګیانو ورکړے نوم دے او د دې سیمې د خلقو تشخص ترې نۀ ظاهرېږي. بعضې خلق دا نوم د عوامي نېشنل پارټۍ وضع کړے شوے ګڼي او کم خلق دا دلیل ورکوي چې پښتونخوا نوم ځکه پکار نۀ دے چې دلته غېر پښتانۀ هم اوسي.

لوستونکو وړومبے به راشو د هغې خلقو طرف ته څوک چې دا نوم د عوامي نېشنل پارټۍ ایجاد ګڼي. د دې د پاره به مونږ د تاریخ او پښتو ادب مطالعه کوو او د هغې نه به رهنمائي اخلو چې دا نوم د دې سیمې د پاره د کله نه استعمالېدل شروع شوي دي.

مشهور یونانی مؤرخ هیروډوټس چې په ۴۲۵ ق م کښې دوه نیم زره کاله مخکښې دې علاقې ته راغلی وۀ نو هغۀ دې خطې ته پکتیکا او د دې ځائے خلقو ته پخت نومونه اخستي وو. د علم لغات ماهرین «پکتیکا» د پښتونخوا او «پخت» د پښتون په معنٰي اخلي.

د نن نه اتۀ سوه اتلس کاله مخکښې یعني په ۶۱۲ هجری کښې سلیمان ماکو نومے یو پښتون مشر د تذکرة الاولیاء په نوم یو کتاب لیکلے دے چې پکښې د پښتنو ولیانو او بزرګانو احوال او د کلام نمونې درج دي چې د پښتو د وړومبي دور سره تعلق لري. هغوي په دې کتاب کښې لیکي «ما د پښتونخوا دشتو او کلو دوره وکړه او د ولیانو او صالحانو قبرونه مې تلاش کړل. ما ته په هر طرف بېشماره کامل بزرګان ملاؤ شو ما د هغوي خدمت وکړو.

هوتک بابا د پښتنو یو لوئے بزرګ شاعر تېر شوے دے. هغه په ۶۶۱ هجری کښې د مغلو او پښتنو ترمنځ د یو جنګ په موقع پښتنو ته داسې مخاطبه کوي:

اے د مرغــــی غښــــتلیو راشــــئ
پــــه ننــــګ ولاړ د پښــــتونخوا شــــئ
تېــرې تېــرې تــورې تــر مــلا شــئ
پــه کلــي کــور بانــدې مغــل راغــے

ښکارندوئے یو مشهور شاعر تېر شوے دے چې زمانه ئې ۵۸۰ هجری خواوشا ده. دۀ د پښتون بادشاه سلطان محمد غوري کله چې هغۀ په هندوستان لښکر کوو، په شان کښې یو نظم لیکلے دے. په یو شعر کښې وائي:

پښتانۀ ښکلي زلمي چې درومي هند ته
نـــو آغلیـــه پېغلـــې کانـــدې اتڼونـــه

د مغل حکمران اکبر په دور کښې د یو پښتون عالم اخون درویزه بابا ډېره چرچه وه هغۀ په خپل مشهور کتاب مخزن الاسلام کښې دې سیمې پښتونخوا ته مخاطبه کوي او وائي. درویزه چې کوم حقائق بیان کړي دي هغه شفقت لري په لویو، وړو او په ازادو او غلامانو او په ټوله پښتونخوا.

د توري او قلم خاوند خوشحال خان خټک (۱۶۱۳-۱۶۷۹) ته چې کله د اورنګزېب له اړخه تکلیف او اذیت ورسېدو نو هغه داسې ګویا شو.

نوره واړه پښتونخوا په ځائے مېشته ده
خو یو زۀ دې زمانې په کښې منصور کړم

معزالله خان مومند (۱۰۸۵ هجري نه تر ۱۱۷۰ هجري) د پښتو یو مشهور شاعر تېر شوے دے هغه د رحمان بابا تعریف په یو شعر کښې دا رنګ کوي:

د تمــامې پښــتونخوا لــه شــاعرانو
معــزالله عبــدالرحمان دے منتخــب

د مشهور بادشاه احمد شاه ابدالي خو دا خپله خاوره او خپل خلق دومره خوښ وو چې برملا ئې وئیلي وو چې:

د ډیلي تخت هېرومه چې رایاد کړم
زما د خپلې پښتونخوا د غرو سرونه

دا خو څۀ لږ مثالونه وو چې مونږ د هیروډوټس نه واخله تر احمد شاه ابدالي پورې تاسو ته وړاندې کړل. اوس کۀ د جدید تاریخ او پښتو ادب نه مثالونه پېش کول شروع کړم نو خبره به ډېره اوږده شي خو دومره عرض کول ضروري ګڼم چې کوم خلق دا نوم متنازعه ګڼي او دا د عوامي نېشنل پارټۍ

وضع کړے بولي. د مسلم لیگ سره تړون لرونکو ډېرو لویو شخصیتونو دوست محمد خان کامل، پروفېسر پرېشان خټک، سمندر خان سمندر، سرفراز خان عقاب خټک، میر عبدالصمد خان، امیر حمزه خان شنواري او نورو تخلیقات او تالیفات دي وګوري چې دوي دا سیمه په پښتونخوا یاده کړې ده که په بله نامه؟

## د پښتونخوا د مخالفینو دوېم اعتراض

د دې نامې د مخالفینو دوېم اعتراض دا دے چې په دې سیمه کښې د پښتنو نه علاوه د نورو ژبو اوسېدونکي هم مېشته دي ځکه نو دا نوم ورله پکار نۀ دے. زۀ ډېر په احترام عرض کوم چې دا خبره ټیک ده خو دومره وئیل غواړم چې په دنیا کښې هر یو ملک کښې په هره یوه صوبه کښې هم داسې صورتحال وي. د ملکونو، صوبو او سیمو نومونه د اکثریتي قومونو په مناسبت کېښودلے شي او دا خبره لکه د نمر ښکاره ده چې دلته اکثریتي قوم پښتون دے او د زرګونو کالو د دې خاورې مالکان دي. د دې نه وړاندې چې زۀ د ۱۹۹۸ د مردم شمارۍ اعداد و شمار پېش کړم د پاکستان د نورو صوبو یوه جائزه وړاندې کول ضروري ګڼم چې د پاکستان په باقي صوبو کښې صورت حال څۀ دے. د ټولو نه اول به پنجاب له راشو.

د ډېرې مودې نه دلته د سرائیکي صوبې دپاره تحریک چلېدو. د دې تحریک آغاز په ۱۹۸۳ کښې شوے وۀ. د سوبلي پنجاب د اوسېدونکو وېنا ده چې تر ننه د دې سیمې نه نۀ څوک د فوځ اعلي حاکم او نۀ د عدلیې سربراه اخستے شوے دے. حالانکې دغه خلق دا دعوي کوي چې د ملک په ټوله ابادۍ کښې چې د پنجاب کومه ۶۲ فیصده ابادي ښودلې شي په دې کښې زمونږ ۶۰ فیصده حصه ده او بل دا چې مونږ د سرائیکي صوبې مطالبه له دې وجې نه هم کوو چې زمونږ دا سیمه چرې هم د پنجاب برخه نۀ ده پاتې شوې. زمونږ ژبه، تهذیب، تاریخ او ثقافت هر یو ځیز د پنجاب نه جدا دے. تاسو د مادهو نوم الله بخش کېښودو سره د هغۀ اصل د هغۀ نه نۀ شئ تروړلې. مونږ سرائیکي یو او سرائیکي اوسېدل غواړو او بله دا چې په وفاق دننه د یوې اکایۍ تشخص ډېر زیات ضروري دے او دا چې د سرائیکي صوبې دا غوښتنه د تاریخي، ثقافتي او زمکنو حقائقو مطابق ده. لوستونکي دې دا هم یاد ولري چې په سرائیکي سیمه کښې بهاولپور، ملتان، بهکر، مظفر ګړ او قصور کښې هم په لکونو پښتانۀ اوسېږي. د مظفر ګړ ښار یو پښتون نواب مظفر خان اباد کړے وۀ او قصور خو خالص د پښتنو ښار دے.

د سرائیکي صوبې نه پس چې په پنجاب کښې بل کوم تحریک چلېږي هغه د پوټوهار صوبې د جوړولو دپاره روان دے. د راولپنډۍ، مري، جهلم او د چکوال د خلقو وېنا ده چې مونږ پنجابیان نۀ یو مونږ له دې خپل تشخص، خپله صوبه او خپل نوم راکړے شي. لوستونکي دې دا خبره هم په ذهن کښې وساتي چې د پنجاب په دوو ضلعو اټک او میانوالي کښې په لکونو پښتانۀ اباد دي. محققین وائي چې په ټول پنجاب کښې یو کروړ پښتانۀ دا وخت اوسېږي خو د بیل تشخص خبره ځکه نۀ کوي چې د هغوي مفادات د پنجاب سره تړلي دي خو په نسلي توګه اوس هم د ځان دپاره د خان او پښتون ټائټل استعمالوي.

لوستونکو دا د پنجاب صورت حال وۀ چې مونږ پرې یو سرسري نظر واچولو اوس به راشو

سندھ طرف ته. د سندھ صوبې دوه لوئي ښارونه کراچۍ او حېدرابا دي او دا دواړه د پاکستان هم لوئي ښارونه دي. په دې دواړو ښارونو کښې د هندوستان نه راغلي اردو ژبي مهاجر اباد شوي او د کراچۍ او حېدراباد د اقتدار او اختيار مالکان شوي دي. په کراچۍ کښې د دېرشو نه تر پينځۀ دېرشو لکو پورې پښتانۀ اوسېږي. دغه شان په حېدر اباد کښې هم پښتانۀ په ګڼ شمېر کښې اباد دي. د دې نه علاوه د سندھ په نورو ښارونو کښې هم پښتانۀ د ډېر پخوا نه استوګن دي چې مجبوراً ئې سندهي تهذيب خپل کړے دے. بلکې په سندھ کښې خو عربيان هم شته کوم چې د محمد بن قاسم سره راغلي وو. دغه رنګ پنجابيان او سندهيان هم پکښې ډېر دي کۀ صحيح حساب ئې وشي نو په سندھ صوبه کښې نيمه برخه غېر سندهيان دي.

اوس راځو بلوچستان پله دلته هم صرف بلوچيان نۀ اوسي بلکې دلته درې لوئي قومونه او څۀ نور واړۀ واړۀ قومونه اوسي. په لويو قومونو کښې بلوچيان، پښتانۀ، او بروهيان شامل دي. په بلوچستان کښې پښتانۀ څلوېښت فيصده او بلوچيان او بروهي په شريکه پنځوس فيصده دي او پنجابيان او نور پکښې لس فيصده دي چې پکښې هندوستاني مهاجر او د افغانستان نه راغلي هزاره ايراني هم شامل دي. د دې صوبې صورت حال دا دے چې د پېرنګي د راتلو پورې د دې صوبې نوم نۀ وۀ ځکه چې خاران، مکران او قلات د بلوچو علاقې وې او د پښتنو پټۍ د کاکړستان په نوم مشهوره وه چې پکښې ژوب، لورالائي، هرنائي او زيارت شامل وو، کوئټه، پشين، قندهار سره تړلي وو. پېرنګيانو چې کله په ۱۸۳٤ کښې د لدهيانې نه شاه شجاع راوغوښتو او د بولان په لاره ئې افغانستان ته بوتلو او په تخت ئې کښېنولو نو هغه وخت شاه جهان جوګېزے د کاکړستان حاکم وۀ. په دغه وړومبني اينګلو افغان جنګ کښې چې کله شاه شجاع او جنرل مېکناټن قتل شو نو هغه وخت هم کاکړستان ازاد وۀ او په دوېم اينګلو افغان جنګ کښې چې رابرټ سنډيمن کله د بلوچو قبائلو مري او بګټي په ملاتړ بلوچ علاقه قبضه کړه او په دغه علاقه د قلات خان واکداري شوه او د بروهيانو سيمه ئې هم په دې کښې شامله کړه نو هغه وخت هم د پښتنو سيمې ته برټش بلوچستان وئيلے شو او د مرکزي حکومت د لاندې وه.

اوس به راشو کشمير طرف ته (د کشمير نه مراد موجوده ازاد کشمير دے) دلته سدوزئي په ګڼ شمېر کښې موجود دي او سردار محمد ابراهيم خان، عبدالرحمان خان، جنرل حيات خان او سردار انور خان سدوزے پښتانۀ وو چې د کشمير صدران پاتې شوي وو. دا يوه مختصره جائزه وه چې ما تاسو ته وړاندې کړه چې په ټول پاکستان او نورو صوبو کښې دا صورت حال دے او لوستونکو به اندازه لګولې وي چې په پنجاب، سندھ او بلوچستان کښې د پنجابيانو، سندهيانو او بلوچيانو واضحه اکثريت نشته خو د صوبه سرحد صورت حال بل رنګ دے دلته پښتانۀ په اکثريت کښې دي.

د کال ۱۹۹۸ د مردم شمارۍ مطابق د دې صوبې په ټولو څوارلسو ضلعو کښې د پښتنو ابادي په دې ډول ده:

| پېښور | رقبه مربع کلومیټر | ټوله ابادي | پښتانۀ | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| پېښور | ۱۲۵۷ | ۲۰۱۹۱۱۸ | ۱۷۲۸۸٦۹ | ۸۵,٦۲ |
| نوښار | ۱۷٤۸ | ۸۷٤۳۷۳ | ۷۹٤۷۵ | ۹۰,۹۰ |
| چارسده | ۹۹٦ | ۱۰۲۲۳٦٤ | ۱۰۱٦٦۰۹ | ۹۹,٤٤ |
| مردان | ۱٦۳۲ | ۱٤٦۰۱۰۰ | ۱٤۳۷۳۲۸ | ۹۸,٤٤ |
| صوابي | ۱۵٤۳ | ۱۰۲٦۸۰٤ | ۹۸۹۸۳۰ | ۹٦,٤۰ |
| ملاکنډ | ۹۵۲ | ٤۵۲۲۹۱ | ٤٤٤۱۳٦ | ۹۸,۲۰ |
| دیر بالا | ۳٦۹۹ | ۵۷۵۸۵۸ | ۵۳۲٤۷۳ | ۹۲,٤۷ |
| دیر پائین | ۱۵۸۲ | ۷۱۷٦٤۹ | ۷۱۲۹۵٤ | ۹۹,۳۵ |
| سوات | ۵۳۳۷ | ۱۲۵۷٦۰۲ | ۱۱٦۹۰۲۱ | ۹۲,۹٦ |
| چترال | ۱٤۸۵۰ | ۳۱۸٦۸۹ | ۱۲۱۰٦ | ۰۳,۸۰ |
| بونېر | ۱۸٦۵ | ۵۰٦۰٤۸ | ٤۸۸۸٦۷ | ۹٦,٦۰ |
| شانګله | ۱۵۸٦ | ٤۳٤۵٦۳ | ٤۱٤٦۷۰ | ۹۵,٤۲ |
| کوهاټ | ۲۵٤۵ | ۵٦۲٦٤٤ | ۳٤٦۲٤۷ | ۷۷,۵٤ |
| کرک | ۳۳۷۲ | ٤۳۰۷۹٦ | ٤۲۹٦۳۹ | ۹۹,۷۳ |
| هنګو | ۱۰۹۷ | ۳۱٤۵۲۹ | ۳۱۰۹۰۵ | ۹۸,۸۵ |
| کوهستان | ۷٤۹۲ | ٤۷۲۵۷۰ | ۱۸۲۳٦ | ۰۳,۸۵ |
| بټګرام | ۱۳۰۱ | ۳۰۷۲۷۸ | ۲۵۰۹۰۵ | ۸۱,٤٦ |
| مانسهره | ٤۵۷۹ | ۱۱۵۲۸۳۹ | ۳۰٦۵۱۱ | ۲٦,۵۹ |
| هري پور | ۱۷۲۵ | ٦۹۲۲۲۸ | ٦۱۷٦۹ | ۰۸,۹۲ |
| ایبټ اباد | ۱۹٦۷ | ۸۸۰٦٦٦ | ۱۹۵۰۸ | ۰۲,۲۲ |
| ډي آئي خان | ۷۳۲٦ | ۸۵۲۹۹۵ | ۱۸۷۸۵۷ | ۲۲,۰۲ |
| ټانک | ۱٦۷۹ | ۲۳۸۲۱٦ | ۱۹۱۳۳٤ | ۸۰,۳۲ |
| بنو | ۱۲۲۷ | ٦۷۵٦٦۷ | ٦٦۵۹۲۷ | ۹۸,۵٦ |
| لکي مروت | ۳۱٦٤ | ٤۹۰۰۲۵ | ٤۸٦٦۲۰ | ۹۹,۳۱ |
| ټولې ضلعې | ۷٤۵۲۱ | ۱۷۷۳۵۹۱۲ | ۱۳۱۰۵٤۱٦ | ۷۳,۹۰ |

خو دا صرف د ۲٤ ضلعو حساب دے یعني د صوبې ټوله ابادي یو کروړ اووۀ اویا لکه پینځۀ دېرش زره نهۀ سوه دولس ده او په دې کښې د پښتنو شمېر یو کروړ یو دېرش لکه پینځۀ زره څلور سوه شپاړس دے چې د ټولې ابادۍ ۷۳,۹۰ جوړېږي.

د قبائلي علاقو د ۱۹۹۸ د مردم شمارۍ اعداد وشمار په دې ډول دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ایف آر پېښور | ۲۶۱ | ۵۳۸۴۱ | ۵۳۴۱۰ | ۹۹,۲۰ |
| ایف آر کوهاټ | ۴۴۶ | ۸۸۴۵۶ | ۸۷۲۱۱ | ۹۸,۶۰ |
| ایف آر بنو | ۷۴۵ | ۱۹۵۹۳ | ۱۹۲۲۸ | ۹۸,۱۴ |
| ایف آر لکي مروت | ۱۳۲ | ۶۹۸۷ | ۶۸۸۵ | ۹۸,۵۴ |
| ایف آر ډي آئي خان | ۲۰۰۸ | ۳۸۹۹۰ | ۳۸۷۱۰ | ۹۹,۲۸ |
| ایف آر ټانک | ۱۲۲۱ | ۲۷۲۱۶ | ۲۶۵۵۰ | ۹۷,۵۵ |
| ټوله رقبه | ۴۸۱۳ | ۲۳۵۰۸۳ | ۲۳۱۹۹۴ | ۹۸,۶۹ |

د دې شپږو ایف آر علاقو ټوله رقبه څلور زره اتۀ سوه دیارلس مربع کلومیټره ده او ابادي ئې دوه لکه پېنځوس زره درې اویا ده چې پکښې پښتانۀ درویشت لکه یو زر نهۀ سوه څلور نوي دي چې د ټولې ابادۍ ۹۸,۶۹ فیصده دي.

اوس به د هغو قبائلي علاقو طرف ته راشو. د ۱۹۹۸ د مردم شمارۍ مطابق د هغوي شمېر څه په دې رنګ دے:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| باجوړ | ۱۲۰۰ | ۵۹۵۲۲۷ | ۵۹۲۲۵۸ | ۹۹,۵۰ |
| مومند | ۲۲۹۶ | ۳۳۴۴۵۳ | ۳۳۳۷۸۹ | ۹۹,۸۰ |
| خیبر | ۲۵۷۶ | ۵۴۶۷۳۰ | ۵۴۴۶۰۵ | ۹۹,۶۱ |
| کرم | ۳۳۸۰ | ۴۴۸۳۱۰ | ۴۴۲۲۰۳ | ۹۸,۶۴ |
| اورکزے | ۱۵۳۸ | ۲۲۵۵۴۴۱ | ۲۲۴۸۲۴ | ۹۹,۷۳ |
| شمالي وزیرستان | ۴۷۰۷ | ۳۶۱۲۴۶ | ۳۵۹۸۸۱ | ۹۹,۶۲ |
| جنوبي وزیرستان | ۶۶۲۰ | ۴۲۹۸۴۱ | ۴۱۸۰۶۲ | ۹۷,۲۶ |
| ټوټل | ۲۲۴۰۷ | ۲۹۴۱۲۴۸ | ۲۹۱۵۶۲۲ | ۹۹,۱۳ |

په دې ټولو اوو قبائلي ایجنسو کښې نهۀ دېرش لکه یو څلوېښت زره دوه سوه اتۀ څلوېښتو کښې پښتانۀ نهۀ دېرش لکه پینځلس زره شپږ سوه دویشت دي یعنې د پښتنو شرح ۹۹,۱۳ جوړېږي.

د دې حساب کتاب نه څرګنده شوه چې د دې سیمې پښتانۀ په ضلعو کښې ۷۳,۹۰ فیصد په ایف آر کښې ۹۸,۶۹ او په قبائلي علاقو کښې ۹۹,۱۳ فیصد دي.

د معترضینو یوه حلقه دا اعتراض کوي چې کۀ د دې صوبې نوم بدل کړے شو نو بیا به د پاکستان نوم هم بدلول پکار وي ځکه چې پاکستان د دې صوبو مخفف دے. دا خلق پاکستان دا سې مخفف ګڼي چې د (پ) نه پنجاب، د (ا) نه افغانیه د (ک) نه کشمیر، د (س) نه سندهـ او (ستان) نه بلوچستان

مراد اخلي. په دې حقله چې خبره کوو نو وړومبۍ خبره دا ده چې تر ۱۹۷۱ پورې پاکستان په پينځو صوبو بنګال، پنجاب، سندھ، سرحد او بلوچستان مشتمل وۀ او د پاکستان نوم چوهدري رحمت علي په ۱۹٤۷ کښې تجويز کړے وۀ. نو کۀ د دوي دغه د مخفف واله خبره صحيح وګڼو نو بيا په دې کښې (ب) چرته ده يعني د بنګاليانو نمائندګي څۀ شوه. بيا به (الف) واخلو چې دوي وائي چې دا د افغانيه نمائندګي کوي نو بيا ورته دا وايم چې افغانيه صوبه چرته ده؟ يا د هغې په ځائے شمال مغربي سرحدي صوبه ولې ده؟ وائي چې (ک) د کشمير دپاره دے. نو وړومبۍ خبره خو دا ده چې کشمير دا وخت په دوو برخو کښې تقسيم دے يو برخه د هندوستان سره ده چې ورته مقبوضه وئيلے شي دويمه ئي د پاکستان سره ده چې ورته ازاد کشمير وئيلے شي خو پوره نۀ ده او تر اوسه په باقاعده توګه د پاکستان برخه نۀ ده تسليم شوې ځکه خو ورسره د ازاد لاحقه لګولې شوې ده. د دې برخې خپل صدر او وزير اعظم وي نو چې دا ازاده برخه ده او د پاکستان برخه نۀ ده نو بيا (پاکستان) لفظ کښې د (ک) نه کشمير څنګه مراد اخستے شي؟

لفظ (پاکستان) د مخفف په تعريف پوره هم نۀ خېژي. د مخفف تعريف دا دے چې د يوې ادارې يا يو څيز وړومبي حرفونه واخستے شي او د هغې نه جوړ کړے شي مثلاً بي بي سي برټش براډکاسټنګ کارپوريشن، يا پي آئي اے پاکستان انټرنېشنل ائرلائنز وغېره نو په دې تناظر کښې ورته وکتے شي نو پاکستان د مخفف په تعريف هم پوره نۀ دے. ځکه چې د څلورو واړو صوبو نه وړومبي حرفونه واخستے شي نو هغه داسې شي چې د (س) نه سرحد، د (پ) نه پنجاب، د (س) نه سندھ او د (ب) نه بلوچستان نو مخفف به په اردو ښتو کښې سپسب جوړ شي او په انګرېزۍ کښې به spsb شي.

لوستونکو الله پاک چې په دې کائنات کښې څومره څيزونه پېدا کړي دي د هغې ټولو خپل نومونه شته خپله د الله پاک بې شمېره صفاتي نومونه دي. انبيائے کرام د خپلو مذهبي کتابونو او مذهبونو په نوم يادولے شي دغسې مقربې فرښتې خپل نومونه لري. غرض دا چې په زمکه او اسمان کښې هر څيز يوه نامه لري خو يو بدقسمته ښتون قام دے چې تراوسه د خپل وطن د نوم او تشخص نه محرومه دے او چې کله هم ښتون له د شناخت ورکولو خبره کولے شي نو په غېر ضروري توګه اسمان په سر اخستے شي. کوم خلق چې دا وائي چې د نوم بدلولو دپاره دې ريفرنډم وکړے شي نو د هغوي نه ډېر په احترام پوښتنه کوم چې د پنجاب د دريو ښارونو کېمبل پور، لائل پور او منټګمري نومونه بالترتيب اټک، فېصل اباد او ساهيوال کېښودے شو نو د هغې دپاره ريفرنډم شوے وۀ؟ اخر د ښتنو سره دا امتيازي سلوک ولې کولے شي؟

ښتونخوا د ښتنو د خاورې زوړ او تاريخي نوم دے د دې نوم د حاصلولو دپاره د اسمبلۍ په فلور آئيني او قانوني لاره اختيار کړې شوې ده چې يوه مهذبه او جمهوري لاره ده او د هر دليل، اصول او ضابطې د لاندې ښتونخوا د ښتنو حق دے. دا د يوې پارټۍ يا مخصوص مکتبۀ فکر د خلقو مسئله او مطالبه نۀ ده بلکې د ټول ښتون قام د شناخت مسئله ده. د دې نوم په ورکولو کښې د پاکستان استحکام، بقا او يو والے پټ دے. نو اوس چې کومه آئيني پارليماني کمېټي جوړه شوې ده هغه په ډېرو سنجيده، تعليم يافته او پوهه خلقو

مشـتمله ده. مـونږ يقـين لـرو چـې دا کمېټـې بـه دې
صوبې له د پښتونخوا نوم ورکړي او د همېشه دپاره
به دا مسئله ختمه کړي.